د افغانستان اسلامی جمهوریت
مالیې وزارت

# شتمنی

د مالیې وزارت اونیزه خپرونه

زموږ راتلونکی   زموږ هیواد   زموږ مالیه

| شماره یک صد و چهل و هشتم | یک شنبه | ۲۵حمل سال ۱۳۹۸ | سال تاسیس : ۱۳۹۴ هجری شمسی |
|---|---|---|---|

## د مالیې وزارت سرپرست د نړیوال بانک او د پیسو نړیوال صندوق د ۲۰۱۹ کال په پسرلنیو ناستو کې ګډون وکړ




د مالیې وزارت سرپرست او د زیربناء په چارو کې د ولسمشرۍ عالي مقام ستر سلاکار ښاغلي پروفیسور محمد همایون قیومي،د۱۳۹۸لمریزکال د وري میاشتې په ۲۲ او ۲۳ نېټو د امریکا په متحده ایالتونو کې د نړیوال بانک او د پیسو نړیوال صندوق د ۲۰۱۹ کال په پسرلنیو ناستو کې ګډون وکړ.

د یادو په ناستو په څنډه کې ښاغلي قیومي د نړیوال بانک، د پیسو نړیوال صندوق، د پرانیستې حکومتولۍ لپاره د مشارکت نړیوال سازمان، د څو اړخیزو پانګونې د تضمین اداري (MIGA) د نړیوال مالي سازمان (IFC)، د ازبکستان جمهوریت د لومړي وزیر مرستیال، د انګلیستان هیواد د پراختیایې مرستو د نړیوالې اداري (DFID)، د اسیا پراختیایي بانک رئیس، د هند اقتصادي چارو مرستیال، د اروپایي ټولنې د پراختیایې مرستو رئیس و د امریکا متحده ایالاتو د خصوصي سکټور استازو سره په جلا ټول وکتل او همداشان یې د چاپیریال ساتنې په جوړ شوي پنل کې هم ګډون وکړ.

په دې جلا کتنو کې د مالیې وزارت سرپرست د یادو هیوادونو او نهادونو له مسؤلینو سره د افغانستان حکومت په مالي او اقتصادي اصلاحاتو، په دې هیواد کې د خصوصي سکټور په ودې، د پانګونې په جلبولو او یو شمېر نورو اړوندو موضوعاتو بحث وکړ.

همداشان د مالیې وزارت سرپرست د افغانستان اقتصادي ځان بسیاینې ستراتیژیک پلان او د ۸/۷ میلیارده ډالرو په ارزښت د مالي پانګونې بسته د



یادو هیوادونو او نهادونو له مسؤلینو سره شریکه کړه او په دې برخه کې د هغوی د همکاریو غوښتونکی شو. دوی هم ژمنه وکړه چې د افغانستان مالي پانګونې د بستې له مطالعې څخه وروسته به په بېلابېلو برخو کې له افغانستان سره همکاري وکړي او په راتلوونکي کې به په دې اړه تخنیکي بحثونه دوام ولري.

## عناوین مهم

د مالیې وزارت سرپرست د نړیوال بانک او د پیسو نړیوال صندوق د ۲۰۱۹ کال په پسرلنیو ناستو کې ګډون وکړ




چهل و چهارمین نشست سالانه بانک انکشاف اسلامی دایر گردید




د مالیې وزارت سرپرست د سعودي عربستان او کویټ پراختیایی صندوق له چاراوکو سره د پانګې جلبولو پلان شریک کړ




د ستآوردها سال مالی ۱۳۹۷ و پلان های سال مالی ۱۳۹۸ وزارت مالیه تحت برنامهٔ ملی حسابدهی حکومت به ملت با مردم شریک گردید



| | |
|---|---|
| د امتیاز خاوند : | شمروز خان مسجدی د عامه اړیکو ریس او ویاند |
| مســــــوول مدیر : | عبادالله درمان |
| مـــــــــرستیال : | فردین معرفتی |
| کــــــــــتنپلاوی: | داود نظری،محمد ابراهیم گران، محمود عبادی او سلیمان نوری |
| تخنیکي همـــکار : | فرید نوښت،عتیق الله عتیق |
| دیزاینــــــــــر : | |
| برېښنالیـــــــــک : | tamas@mof.gov.af |
| اړیکــــــشمیرې: | ۰۲۰۲۱۰۶۴۰۹ |

# چهل و چهارمین نشست سالانه بانک انکشاف اسلامی دایر گردید

**محترم پروفیسور محمد همایون قیومی، سرپرست وزارت مالیه و مشاور ارشد مقام عالی ریاست جمهوری در امور زیربناء طی سفر رسمی که به مراکش داشت در چهل و چهارمین نشست سالانه بانک انکشاف اسلامی اشتراک نمود. این نشست، بخاطر نیاز به تغییر قابل توجه در استراتیژی جدید برای رسیدن به اهداف انکشافی پایدار صورت گرفت که در آن وزراء مالیه و نماینده گان بیش از ۵۶ کشور اسلامی، نماینده گان شرکت ها و موسسات غیر دولتی اشتراک داشتند.**




سرپرست وزارت مالیه ضمن اشتراک در این نشست، با مقامات بلند رتبه کشور ها، سازمان های کمک کننده، رؤسای بانک های بین المللی و رئیس بانک انکشاف اسلامی طور جدا گانه ملاقات نمود .در این نشست ها، سرپرست وزارت مالیه تأکید کرد که افغانستان در حال گذر از یک دهه تحول است که نیاز خود کفا شدن دارد .افغانستان، روی بسته تسریع خودکفایی کار کرده و بسته سرمایه گذاری ۸/۷ میلیارد دالر امریکایی را برای کمک به تسریع روند دستیابی به خودکفایی اقتصادی پیشنهاد می کند.

محترم داکتر بندر الحجار، رئیس بانک انکشاف اسلامی گفت: ما باید دائما راه های نوین و نوآورانه ای را برای توسعه و انکشاف پیدا کنیم. وی، ترتیب پلان سرمایه گذاری افغانستان برا بهدف رسیدن به خودکفایی تبریک گفته، علاقمندی این بانک را برای کمک به افغانستان اعلام و از تمامی کشور های عضو خواست تا در پروژه های بزرگ افغانستان سرمایه گذاری کنند.

قابل تذکر است که همزمان اجلاس، گروپ بانک انکشاف اسلامی، یک سلسله نشست های حاشیوی را تدویر نمودند که طی آن چهار ستون اصلی پلان ۵ ساله حکومت افغانستان در بخش های ساینس، تکنالوژی، نو آوری و تقویت انعطاف پذیری برای تغییر و تحول مؤثر بحث همه جانبه بعمل آمد.

# د ماليې وزارت سرپرست د سعودي عربستان او کويټ پراختيايي صندوق له چارواکو سره د پانګې جلبولو پلان شريک کړ






د ماليې وزارت سرپرست او د زېربناء په چارو کې د ولسمشرۍ عالي مقام ستر سلاکار ښاغلي پروفيسور محمد همايون قيومي، د رواني اوونی په پيل کې مراکش هيواد کې د اسلامي پراختيا بانک ۴۴ مې کلنۍ ناستو په څنډه کې د سعودي عربستان او کويټ پراختيايي صندوق له مسؤلينو سره په جلا جلا ناستو کې د حکومت د پانګې جلبولو پلان شريک کړ.

په دې ناستو کې د افغانستان د اقتصادي او مالي ځان بسياينې په ستراتېژۍ، چې د جينوا په نړيوال کنفرانس کې له نړيوالو همکارانو سره شريکه شوې وه، کرنې او اوبو لګونې، انرژۍ او بريښنا، کانونو، استوګنځايونو په برخو کې د پانګونې پلان په اساس د دې صندوق د پانګې او مرستو په جلبولو او يو شمېر نورو اړوندو مسائلو په تراو خبرې او د نظرونو تبادله وشوه.

د ماليې وزارت سرپرست په دې ناستو کې ګډونوالو ته د يادو برخو په اړه معلومات ورکړل او زياته يې کړه چې د افغانستان حکومت يادو استراتيژيکو موخو ته د رسيدو لپاره د پانګونې جلبولو توليز پلان چمتوکړی ده.

د سعودي عربستان او کويټ پراختيايي صندوق مسؤلينو ژمنه وکړه، چې د افغانستان حکومت د پانګې جلبولو پلان به په غور سره وګوري او د دې پلان سره سم بې په سترو پروژو کې د پانګونې ډاډ ورکړ.

# دستآوردها سال مالی ۱۳۹۷ و پلان های سال مالی ۱۳۹۸ وزارت مالیه تحت برنامهٔ ملی حسابدهی حکومت به ملت با مردم شریک گردید



محترم زاهد همدرد، معین مالی وزارت به تاریخ ۲۱ حمل سال ۱۳۹۸مالیه دستآوردها سال مالی ۱۳۹۷ و پلان های سال مالی ۱۳۹۸ وزارت مالیه را در برنامهٔ حسابدهی حکومت به ملت از طریق کنفرانس مطبوعاتی در مرکز رسانه های حکومت با مردم شریک ساخت.

برنامه توسط پیام جلالتمآب محمد اشرف غنی، رئیس جمهور جمهوری اسلامی افغانستان و سخنان محترم وحید عمر، مشاور ارشد مقام عالی ریاست جمهوری در امور روابط عامه و استراتیژی افتتاح گردیده، و محترم زاهد همدرد معین مالی وزارت مالیه در رابطه به وضعیت عواید ملی در سال مالی ۱۳۹۷، مصرف بودجهٔ انکشافی بادرنظرداشت مؤثریت، مثمریت و اولویت های مردم، تطبیق اصلاحات، سیستم سازی، مبارزه علیه فساد، تطبیق اصلاحات در منابع عوایدی، فعالیت شورای عالی اقتصادی، گسترش همکاری های دو جانبهٔ اقتصادی و اتصال منطقوی، تأمین هماهنگی و ارتباطات مؤثر با دونران، استراتیژی خودکفائی مالی و پلان های وزارت مالیه در سال مالی ۱۳۹۸ به رسانه ها معلومات ارائه نمود.

محترم همدرد ضمن تاکید بر حق دسترسی به اطلاعات و پایندی وزارت مالیه به آن گفت:" در سال مالی ۱۳۹۷ هدف در سند بودجه ملی ۱۷۲ میلیارد تعیین گردیده بود که

معین مالی وزارت مالیه افزود:" گسترش روابط اقتصادی با منطقه و جهان یکی از اهداف مهم ما می باشد که ما در جریان ۵ ماه اخیر توانستیم به تعداد ۵ پروتوکول و تفاهمنامه را با کشور های مختلف منطقه در عرصه های انرژی، خط آهن، تجارت و سرمایه گذاری و گمرکات به امضاء برسانیم. همچنین توانستیم که کنفرانس جینوا را مؤفقانه برگزار نماییم".

معین مالی وزارت مالیه اظهار داشت:" ما استراتیژی رسیدن به خودکفائی را آماده ساختیم که با تطبیق آن دستیابی به عواید ۸ میلیارد دالر امریکایی تا سال ۲۰۲۵، افزایش حجم صادرات تا ۲ میلیارد دالر امریکایی و رشد تولید ناخالص داخلی ۸ فیصد تا سال ۲۰۲۴ می باشد. و ما برای رسیدن به بعضی از اهداف استراتیژی رشد و و حرکت به سوی خودکفایی یک بستهٔ تسریع مالی (بسته سرمایه گذاری حکومت) را ایجاد نموده ایم".

همچنین محترم همدرد به برخی چالش ها و مشکلات موجود یاد آوری نموده و به راه حل های آن اشاره نمود. در اخیر این کنفرانس به سوالات خبرنگاران جواب ارائه گردید.

قابل تذکر است که به اساس حکم جلالتمآب رئیس جمهور در مورد پاسخ دهی نهاد های حکومتی به ملت و به تاسی



خوشبختانه الی اخیر سال مالی ۱۳۹۷ توانستیم که ۱۸۹ میلیارد افغانی جمع آوری نماییم که ۱۲ فیصد ازدیاد را نسبت به هدف تعیین شده در سند بودجه ملی نشان داده و در مقایسه به حکومت قبلی ۹۰ فیصد افزایش را نشان می دهد. همچنان مصرف بودجه انکشافی وزارت مالیه از ۴۴ فیصد به ۹۵ فیصد افزایش یافت".

از مادهٔ دوم قانون دسترسی به اطلاعات تمام وزارتخانه و واحد های مستقل بودجوی مکلف اند که از طریق کنفرانس مطبوعاتی گزارش دستآوردها و پلان های آینده شانرا به ملت شریک نموده و گزارش فعالیت های خویشرا از طریق رسانه های جمعی مربوطه شان انعکاس دهند.

## اطلاعیه وزارت مالیه در مورد انتقال شرکت های بزرگ در مرکز و 5 ولایات به ریاست مالیه دهنده گان بزرگ در مرکز جهت تصفیه مالیاتی و ارایه خدمات بهتر



به اساس فیصلهٔ شماره سوم شورای عالی اقتصادی به تاریخ 14 حمل سال 1397 ایجاد اداره واحد مالیه دهنده گان بزرک تایید گردیده است. که به اساس آن تمام شرکت های بزرگ که در مرکز و 5 ولایات بزرگ از قبیل کندهار، هرات، بلخ، ننگرهار و کندوز راجستر میباشد و فروشات شان در سال مالی 1396 به مبلغ 150 میلیون افغانی و یا بیشتر باشد بخاطر سهولتهای بیشتر در حین تصفیه مالیاتی، ، ارایه خدمات بهتر به شکل مسلکی، تعیین مالیه دقیق و بهتر شدن روند جمع آوری عواید به ریاست مالیه دهنده گان بزرگ در کابل منتقل گردد.

برعلاوه آن جهت سهولت مالیه دهنده گان محترم، ریاست عمومی عواید وزارت مالیه روند اظهارنامه الکترونیکی قبلاً آغاز نموده اند، که تمام شرکت ها میتواند، فورمه های مالیاتی خویشرا به وقت زمان معین شان از دفاتر خویش خانه پری و از طریق انترنیت در سیستم عواید ثبت نمایند.

قابل یاد آوریست که در این مورد، ریاست عمومی عواید ورکشاپهای آموزشی جهت خانه پری فورمه های مالیاتی از طریق سیستم، ایجاد یوزر برای مالیه دهنده در روزهای سه شنبه از ساعت 09:00 الی 12:00 دایر مینمایند، و تمام مالیه دهنده گان میتواند در این ورکشاپ ها اشتراک نمایند. در صورت ضرورت معلومات بیشتر، تمام مالیه دهنده گان میتواند به شماره 1000 مرکز خدمات ریاست عمومی عواید و یا 0202924658 در تماس شود.

# د ماليې وزارت سرپرست د اسلامي پراختيا بانک له رئيس سره وکتل




د ماليې وزارت سرپرست او د زېربناء په چارو کې د ولسمشرۍ عالي مقام ستر سلاکار ښاغلي پروفيسور محمد همايون قيومي، د رواني اونۍ په پيل کې مراکش هيواد ته د اسلامي پراختيا بانک ۴۴ مې کلنۍ  ناستو په څنډه کې د اسلامي پراختيا بانک له  رئيس ښاغلي ډاکټر بندر هاجر، سره وکتل.
په دې ناسته کې ښاغلي قيومي، د نوموړي بانک له رئيس څخه چې د اسلامي هيوادونو د پراختيا او په ځانګړي توګه د افغانستان پراختيا ته پاملرنه کوي مننه وکړه او زياته يې کړه، افغانستان لوړو موخو ته د رسېدو لپاره د پانګونې منظم پلان لري، چې ۸ ميلیارده او ۷ سوه ميليونه ډالر ارزښت لري. نوموړي وويل چې اقتصادي ځان بسياينه، د خلکو د ژوند کچه لوړول، د  بېوزلۍ له منځه وړل او کار پيدا کول د پانګې جلبول د ياد پلان موخې دي. دا پلان په دريو برخو د کرنې او اوبو لګولو سکټور، انرژۍ او برېښنا او مسکن ته ځانګړې پاملرنه کوي.
د ماليې وزارت پرست په دې برخه کې د اسلامي پراختيا بانک د مرستو او پانګونې غوښتونکی شو.
د اسلام پراختيا بانک رئيس، په دې ناسته کې له افغان لوري مننه وکړه او اقتصادي ځان بسياينې ته د رسېدو په موخه يې د ياد پلان او پروګرامونو له جوړېدو مبارکي ورکړه. نوموړي، ژمنه وکړه چې ياد بانک به د افغان حکومت پلان په غور وګوري او خپلې کارې ډلې ته يې دنده وسپارله څو د سترو پروژو لکه، کرنې او اوبو لګونې، کانونو، انرژۍ او برېښنا په برخو کې د دې بانک د پانګونې امکان سنجونې لپاره د افغان حکومت د پانګې جلبولو پلان په غور مطالعه کړي.


# جلسهٔ کابینه پلان استراتیژیک گمرکات برای سال های ۱۳۹۷ – ۱۴۰۱ را مورد تائید قرارداد



جلسهٔ کابینه پلان استراتیژیک گمرکات برای سال های ۱۳۹۷ – ۱۴۰۱ را بتاریخ ۲۰ حمل سال ۱۳۹۸ مورد تائید قرار داد.

پلان استراتیژیک ریاست عمومی گمرکات را در مسیر تبدیل شدن به یک اداره گمرکی مدرن، کارا و موثری قرار می دهد که از توانایی و قابلیت کافی برای تسهیل موثر و مثمر تجارت، افزایش امنیت بنادر کشور و بهبود جمع آوری عواید برخوردار باشد. پلان متذکره در مشوره با بانک جهانی و سازمان جهانی گمرکات ترتیب گردیده و اساس و چارچوب مشخص را جهت رفع چالش های متعددی ارایه نموده و مبارزه با فساد و شفافیت بیشتر را تأمین میکند.

## ښاغلی حبيب څدران د ماليې وزارت د اداري معينيت د سرپرست په توګه معرفي شو



ښاغلی حبيب څدران د ولسمشرۍ عالي مقام د حکم له مخې د۱۳۹۸لمريزکال د وري مياشتې په ۲۰ مه نېټه د ماليې وزارت سرپرست او د زيربناء په چارو کې د ولسمشرۍ عالي مقام ستر سلاکار ښاغلي پروفيسور محمد همايون قيومي، له لوري د ماليې وزارت د اداري معينيت د سرپرست په توګه معرفي شو.
په دې پيژندغونډه کې چې د ماليې وزارت يو شمېر رئيسانو او کارکوونکو ګډون کړې وو، د ماليې وزارت سرپرست د پخواني اداري معين ښاغلي فريد حکمت چې د شخصي معاذيرو له امله يې استعفاء وکړه له کړنو او فعاليتونو څخه مننه وکړه او د ماليې وزارت د نوي ټاکل شوي اداري معين ښاغلي حبيب څدران ته يې په اړوندو چارو کې د برياليتوب غوښتنه وکړه.
ښاغلي حبيب څدران د جلالتماب ولسمشر او د ماليې وزارت سرپرست د باور څخه مننه وکړه او وويل چې د نورو ادارو په مرسته هڅه کوم چې د ماليې وزارت پلانونه او اهداف عملي کړم. نوموړي له ټولو کارکوونکو څخه غوښتنه وکړه چې د چارو د لا ښه تر سره کيدو په موخه له ده سره هر اړخيزه همکاري وکړي.
د يادونې وړ ده چې ښاغلی حبيب څدران په مالي او سوداګرۍ برخه کې د ماسترۍ تر کچې لوړې زده کړې کړې او له دې وړاندې د عوايدو لوی رئيس، د لويو ماليه ورکوونکو د رئيس او په دې وروستيو کې د ماليې وزارت د ستر سلاکار په توګه دندې تر سره کړې دي.

# رئیس انسجام، پلان و مراقبت از پروژه های وزارت مالیه معرفی گردید



محترم کمال اندیوال به تاریخ  ۲۰ حمل ۱۳۹۸ به اساس حکم مقام عالی ریاست جمهوری پس از سپری نمودن رقابت آزاد، توسط محترم محمد خان دانشجو، رئیس عمومی مالی و اداری وزارت مالیه در حالیکه شماری از روساء و کارمندان وزارت مالیه نیز حضور داشتند به حیث رئیس انسجام، پلان و مراقبت از پروژه های این وزارت معرفی گردید.
رئیس مالی و اداری وزارت مالیه ضمن تشکر و قدردانی از کارکرد های محترم ذبیح الله بشیری، رئیس پیشین این ریاست، برای رئیس جدید التقرر آرزوی مؤفقیت نموده، از تمام کارمندان این ریاست خواست تا جهت پیشبرد هرچه بهتر امور محوله با ایشان همکاری همه جانبه نمایند.

# د اقتصادي اومالي ځان بسيايني لپاره د حکومت اوږد مهاله پلانونه څه دي؟

له ۲۰۰۲ زیږدیز کال را دیخوا د افغانستان حکومت په ټولو برخو کې د مرستندویه هېوادونو او بنسټونو د مالي مرستو په ملاتړ خپل عادي، پراختیايي، ملکي او نظامي چارې په ښه توګه پر مخ بیولي دي. له دې مرستو یوه ستره برخه یې د مرستندویه هیوادونو او بنسټونو له لوري په مستقیمه توګه لګول کېږي او پاتې برخه یې د افغانستان حکومت د لومړیتوبونو په پام کې نیولو سره د ملي بودجې له لارې لګول کېږي. د ملي یووالي حکومت په راتلو سره پاملرنه دې ته واوښته، چې څنګه وکولی شو د بهرنیو مرستو ستره برخه د هیواد د ملي بودجې له لارې مصرف کړو. پرلپسې هڅو او د یوه منظم مالي پلان په رامنځ ته کېدو حکومت وکولی شول دغه تشه ډکه کړي او ښې لاسته راوړنې ولري. د افغانستان حکومت په تېرو څلورو کلونو کې خپل ظرفیت او وړتیا ښه کړه او په لومړي ځل یې په ۱۳۹۷ کال کې خپله پراختیايي بودجه له۹۲ سلنې زیاته ولګوله.

دا ستره لاسته راوړنه د دوو علتونو په بنسټ را منځ ته شوه:

لومړی دا چې هېوادوالو ته غوره پراختیايي خدمتونه وړاندې شول او بل مرستندویه هیوادونو ته دا وښودل شوه، چې د افغانستان د حکومت وړتیا لوړه شوې او اوس کولی شي چې خپله بودجه په ښه توګه مصرف کړي. دا چې مرستندویانو ته د افغان حکومت د بودجې لګښت وړتیا په ډاګه شوه، دوی ته اړینه ده چې خپله مرسته د هیواد د ملي بودجې له لارې ولګوي او خپلې مرستې د ملي بودجې له لارې لا زیاتې کړي.

د افغانستان د حکومت د ملي بودیجې له لارې مرستې لګول پرته له شکه چې د حکومت لپاره ښه لاسته راړنه ده. خو ښکاره حقیقت دادی، چې نړیواله مرسته را کمه شوې ده او ورو ورو به نوره هم کمه شي. د افغانستان ملي یووالي حکومت په دې پوه شوی، چې نور باید د خپلو لګښتونو او ملت ته د پراختیايي خدمتونو وړاندې کولو، همدا شان د خپلې اقتصادي او مالي ځان بسایني لپاره لاس په کار او په تدریجي ډول په راتلونکو څو کلونو- نهایتآ تر ۲۰۳۰ میلادي کال پورې په خپلو پښو ودریږي او خپل ټول لګښتونه په خپله پیدا کړو.

**د اقتصادي او مالي ځان بسايني لپاره حکومت کوم ګامونه پورته کړي؟**

د دغه مهم کار لپاره کومي پالیسۍ او تګلارې جوړې شوي؟ آیا په دغه سندونو او تګلارو کې د نړیوالو همکارانو نظرونه اخیستل شوي او د دوی لپاره د منلو وړ دي؟

افغان حکومت د خپلې مالي او اقتصادي ځان بسايني لپاره په ۱۳۹۷ لمریز کال کې د جینوا نړیوال کانفرانس کې" د افغانستان د اقتصادي ودې اجنډا: د افغانستان د سولې او پراختیا ملي چوکاټ له لارې د بنسټیز بدلون او ځان بسایني لپاره" تر عنوان لاندې له خپلو نړیوالو همکارانو سره د ځان بسایني اجنډا شریکه کړه. په دې کنفرانس کې د افغانستان حکومت په ډاګه کړه، چې نړیوال همکاران مونږ ته باید د یوه فعال شریک په سترګه و ګوري، نه د یوه داسې هیواد په توګه چې یوازې مرسته غواړي او پر خپلو پښو د ودریدلو هوډ نلري. د افغانستان حکومت وغوښتل، چې د مرستی پر ځای زمونږ په هیواد کې پانګونه وکړئ، تخنیکي مرستې وکړئ، ښه او اوږد مهاله پور راکړئ او زمونږ د تولیداتو لپاره خپل بازارونه پرانیزئ. دغه آجنډا په یوه غږ د ګډونوالو لخوا ومنل شوه او ټولو د خپل ملاتړ ډاډ ورکړ. دا لومړی ځل وو چې په یوه نړیوال کانفرانس کې افغانستان د مالي مرستو غوښتلو پر ځای په خپله ځان بساینه او پانګونه خبرې کولې.

> **د دغې اجنډا سره سم، د افغانستان حکومت باید په ۲۰۲۵ میلادي کال کې ۸ میلیارده امریکایي ډالر عواید، په ۲۰۲۴ کال کې۲ میلیارده امریکایي ډالره صادرات او افغانستان ۸ سلنه اقتصادي وده ولري. آیا دی موخو ته رسېدل امکان لري؟**

**هو!** خو لاندې شرایط باید موجود وي.

- سوله باید راشي. د دغې اجنډا جوړ شوی تطبیقي پلان یو امن او با ثباته حالت غواړي.
- په حکومت کې د اصلاحاتو لړۍ دوام وکړي.
- بشري سرچینې جوړې او باید تخنیکي شي.
- د بنسټیزو کارونو لپاره مالي لګښت پیدا شي او د عوایدو او لګښتونو تر منځ مو یو د منلو وړ انډول رامنځته شي.

د افغانستان د دې اجنډا خپلو موخو ته د رسېدو لپاره په ټولیز ډول په درې مهمو سکتورونو تمرکز لري. دا هغه سکتورونه دي چې ربښتیا هم د افغانستان د هوسایني او مالي او اقتصادي ځان بسیاینې لپاره ډېر اړین بلل کېږي.

لومړی: **کرنه**: دغه سکتور کولی شي چې د اقتصادي ودې او کارموندنې لپاره ډېر موثر اوسي. په کال کې په منځني ډول۱۵۰۰۰۰ هکتاره ځمکه باید خړوبه شي او تر ۲۰۳۰ میلادي کال پورې ۳/۵ میلیونه هکتاره ځمکه باید د کرنیزې ګټې اخیستنې وړ شي. د بزګرانو لپاره باید تر ۴۰۰ زیات روزنیز مرکزونه جوړ شي او زارعتي پارکونه وده وکړي. د اوبو لګونې بنسټونه جوړ او منظم شي.

دویم: **کانونه**: دغه سکتور د عوایدو لوړوېدو او د غیر زراعتي صادراتو د زیاتېدو لپاره ډېر اړین دی. په هیواد کې د تېلو، اوبلن ګاز، مرمر، تالک او کرومایټ ډېرو، د شته وړو او لویو کانونو څخه په ګټه اخیستنه افغانستان کولی شي تر ۲۰۲۴میلادي کال پورې ۱/۸ میلیارده امریکایي ډالره صادرات ولري.

درېیم: **د سیمه ایز اتصال لوېې پروژې**: د سیمه ایز اتصال سترې پروژې لکه ټاپي، تاپ، کاسا-۱۰۰۰ او داسې نور نوښتونه به د دې باعث شي چې په افغانستان کې سوداګري او ټرانزیت وده وکړي. د دغه پروژو په تطبیق سره به په سرحدونو کې اصلاحات رامنځته شي، د هیواد په کچه به اساسی بنسټونه جوړ شي او د سوداګرۍ لپاره به نوي فرصتونه پیدا شي.

د سولې په شتون کې به د دغې آجنډا مطابق ټاکل شوی عوایدي هدف د لاندې سرچینو څخه لاسته راوړل کېږي.

- ۴/۲ میلیارده امریکایي ډالره د مالیاتي او غیر مالیاتي عوایدو څخه، چی په مالي کال ۱۳۹۷ز کې راټول شوي عواید تقریبا ۲/۵ میلیارده وو.
- ۴۰۰ میلیونه امریکایي ډالره د کانونو د استخراج او د سترو سیمه ایزو پروژو د اتصال ټرانزیتی فیس، چی دم ګړۍ دا عواید بیخي ناڅیزه او یا هیڅ نشته.
- ۳/۴ میلیارده امریکایي ډالر نړیواله مرسته چې هغه وخت به زمونږ د کورنیو ناخالصو تولیداتو ( (GDP۱۰سلنه جوړه وي.

په صادراتو کې به په ۲۰۲۴ میلادي کال کې ۱/۸ میلیارده ډالر د کانونو او پاتې د زراعتي توکو برخه وي. د دغو مواردو پلي کول، د خصوصی سکټور پانګونه، د کاري فرصتو زیاتوالی، د لویو سیمه ایزو پروژو اغیز او متداومه نړیواله مرسته به وکولی شي د افغانستان اقتصادي وده تر ۲۰۲۴ میلادي کال پورې ۸ سلنې ته لوړه کړي.

**لیکنی : شمروز خان مسجدی د عامه اړیکو ریس او ویاند**